نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۱۲/۰۶

طالبان ولی په قطر کې؟!

د ۲۰۱۶ دسمبرمیاشتي لومړۍ نیټه وه، د کابل ځخه د رسنیو او ځوانانو شپږ کسیزې ډلې سره د طالبانو د سیاسي دفتر مشرانو ناسته درلودله، داچې د رسنیو کارکوونکي او بیا په ځانګړې ډول د سیاسي بحثونو چلونکي مختلفې پوښتنې کوي، مګر یوه داسي پوښتنه هم وه چې د کابل ځخه تللې ډلې کوم یوه ورته اشاره او یا هم یادونه ونه کړه.
د طالبانو د سیاسي دفتر غړي محمد نعیم وردګ د ناستي په وروستیو وختونو کې پرته له دې چې له ده ځخه دې همدا پوښتنه شوې وي، ویې ویل یوه خبره چې په ځینو رسنیو او ناستو کې ورځخه یادونه کیږي هغه هم داده چې ځینې کسان وایي چې امریکا له طالبانو سره مرسته کوي، قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مخالفت ولې امریکا نه کوي، ولې یې هلته د طالبانو شتون منلی دی، هغه هیواد چې د امریکایي پوځیانو لویه اډه پکې پرته ده، او دیته د ورته تورونو یادونه کیږي.
ښاغلي نعیم وردګ وویل چې د جګړې او ډیپلوماسي اصول یو له بله سره بېل دي، جګړه په خپل ځای کې، مګر ډیپلوماسي بیا د اسلامي او نړیوالو قوانیو په رڼاکې، او د بشر په قانون کې خپل ځانګړی ځای لري.
همدا د انسانیت اصول دي او اسلام همدا لاره غوره کړې، چې د جګړې ځخه جلا د جهتونو د استازو مصؤنیت یې د هرې ډلې او بشر دنده ګرځولي ده.
د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې په حجاز کې مسلمه کذاب د پېغمبرۍ دروغجنه دعوه وکړه، او محمد رسول الله ته یې خپل دوه استازي ابن النواحه او ابن اثال ولیږل: رسول صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: تاسي پر ما ګواهي ورکوئ چې زه د الله پېغمبر یم، هغوی وویل چې موږ ګواهي ورکوو چې مسلمه د الله جل جلاله پېغمبر دی. بیا محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: امنت بالله ورسله، که چیرته سفیران / قاصدان وژل کیدای، ما به تاسي دواړه وژلي واست. سنن ابي داود، مسند امام احمد
(روى الإمام أحمد في مسنده أن "ابن النّوّاحة وابن آثال رسولي مسيلمة جاءا إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال لهما: أتشهدان أني رسول الله ؟ قالا: نشهد أن مسيلمة رسول الله, فقال النبي صلى الله عليه وسلم : آمنت بالله ورسله, لو كنت قاتلا رسولا لقتلتكما. قال عبد الله بن مسعود: فمضت السُنة أن الرسل لا تُقتل.")
دا ډول په پورته حدیث شریف کې راغلي چې الرسل لایقتل، قاصد نه وژل کیږي.
د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر یو بل غړي دکتور صالح وایي چې اسلام همدا اصل چې قاصد مصؤن دي ژوندی وساتی، همدا اصل له اسلام ځخه مخکې د جهالت په وختونو کې هم ساتل شوی وو، او تر اوسه پوري ساتل شوی.
د امام احمد مسند کې دا حدیث روایت شوی چې نعمان ابن مقرن صحابي چې د فارسیانو پاچا یزګرد ته ورغی، ترخې او سختې خبرې یې ورته وکړې، او دا پېښه د مسلمه کذاب له پېښې ډیره مخکې وه، د فارس پاچا ورته وویل چې که چیرته رسول یا قاصد وژل کیدای، ما به تاسي وژلي واست.
داچې قطر کې د امریکا اډه ده، دا ډول سعودي عربستان، اردن او ترکیه او ځینو نورو اسلامي هیوادونو کې شتون لري، هلته په امریکایانو محدودیتونه دي، بل داچې امریکایي پوځیان په زور او خپله خوښه نه بلکې د هغو هیوادونو په غوښتنه ورغلي دي.
ترکیه کې موږ ولیدل چې د امریکایي پوځیانو اډې شتون لري، مګر بیا هم هلته د رجب طیب اردغان په وړاندې د پوځ کودتاه ناکامه کیږي، او د افغانستان ځخه دوه ترکي جنرالان چې په کودتاه کې د لاس لرلو شک پرې کیدی، د ناټو پوځیانو په چوکاټ کې راغلي وو، د تېښتې پرمهال د دوبۍ په هوایي ډګر کې نیول کیږي او ترکیې ته سپارل کیږي (لیکوال).
قطر ته امریکایان خپله نه دي راغلی، قطریانو غوښتي، اډه کې یې پرې محدودیتونه لازم کړي، د حکومت د قانون مخالف کار نه شي کولاي، که قطر وغواړي بیرته یې شړلی شي، قطریان په خپل هیواد کې متصرف دي، ددوی له خوشې پرته هلته د قطر بازارونو ته نه شي وتلای، او نه هم د دوی له خوښې پرته د هغوی لوړ پوړي چارواکي په قطر کې د امریکایانو اډې ته ورتلای شي، او نه هم د قطر جنرالان پرته د دفاع وزارت له اجازې د امریکا اډې ته غوښتل کیدای شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داچي ولي قطر طالبانو د خپل سياسي کميسون لپاره انتخاب کړ، دوی وايي چې د طالبانو د مشر ملامحمد عمر مجاهد مهم شرطونه په بهر کې د طالبانو د سياسي دفتر لپاره داوو چې:
داسي هيواد چې د افغانستان ګاونډی نه وي، ځکه هغوی د ګاونډيتوب د ستونزو له کبله د سولې د خبرو په وخت کې هم د خپلو ګټو اړوند کار کوي.
داسي يو هيواد چې مسلمان وي، غير مسلم هيواد نه وي. او داسي هيواد چې په تيرو وختونو او اوس وخت کې د افغانستان په اشغال کې د دوی برخه او مرسته نه وي. او ممکن ځيني نور هم داسي څه وي چې د طالبانو د مشر لخوا به قطر هيواد ته ترجيح ورکول شوي وي.
کله چې مورِ بيرته کابل ته راغلو، له يوه ملګري څخه داپوښتنه هم شوې وه چې کله تاسي هلته له طالبانو سره خبرې کولې، هلته پاکستانيان موجود وو، کنه؟
رښتيا هم د طالبانو اړوند ډول ډول خبرې کيږي، ولې په ټوله کې فکر کيږي چې د طالبانو د قطر سياسي دفتر د ډيپلوماسۍ په برخه کې ډير کار کړی، او ډير پرمختګونه يې کړي، له هيوادونو سره يې اړيکې ښې کړي، او د منځنۍ آسيا د هيوادونو، روسيې، ځيني نړدې او لېرې هيوادونو هغه انديښنې چې د طالبانو په اړه يې درلودلې، دوی وکولای شوای چې د هغوی انديښنې ليرې او يا کمې کړي.
په نړيوالو کانفرانسونو کې يې برخه واخيستله، د نړۍ بيلابېلو هيوادونو ته يې سفرونه وکړل، او د افغانستان څخه دننه يې مختلف سياستوالو ته بلنه ورکړه چې له دوی سره په قطر او يا کوم بل هيواد کې وګوري. همدغو کتنو هغه فاصلې چې ترمنځ وي، کمې کړي، تمه ده چې يوه ورځ فاصلې ختمې او سولې ته ورسيږو.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ